
Konfliktrådet

pasjto

# د ځوانانو ځانګړې سزا او د ځوانانو څارنه څه شی دي؟

– د ځوانانو او سرپرستانو لپاره مالومات



دا معلوماتي رساله د شخړو د حل او فصل
شورا د دارالانشاء لخوا خپره شوې ده
د ۲۰۲۴ کال سپتمبر



دا معلوماتي رساله به د شخړو د حل او فصل شورا له تاسو سره مرور کړي ترڅو
د ځوانانو سزا (جزا) او د ځوانانو څارنه تاسو ته تشریح کړي. له غونډې وروسته به
تاسو ته د دې رسالې یوه کاپي درکړل شي.
لا زیات مالومات په لاندې انټرنټ پاڼه کې موندلای شئ:
**www.konfliktraadet.no**

## ۱. د ځوانانو ځانګړې جزا او څارنه څه شی دي؟

د ځوانانو ځانګړې جزا او د ځوانانو څارنه د ځوانانو لپاره ځانګړي جزايي غبرګونونه (عکس العملونه) دي.

د ځوانانو جزا د محکمې لخوا ټاکل کیږي او له ځلورو میاشتو څخه تر دوه کلونو پورې دوام کیدای شي دوام وکړي (په ځانګړو مواردو کې درې کاله).
د ځوانانو څارنه د څارنوالۍ لخوا ټاکل کیږي او کیدای شي له ځلورو میاشتو څخه تر یو کال پورې دوام وکړي. تاسو باید هو وواياست، يعنې د ځوانانو له څارنې سره موافقه وکړئ.

د جزا د عکس العمل انتخاب او د جزا د مودې اوږدوالی په مختلفو عواملو پورې تړاو لري، په ځانګړې توګه په دې پورې چې قضیه څومره جدي ده. د ټولو جزاګانو لپاره دا شریکه ده چې تاسو به د ځوانانو لپاره د یوه پلان په جوړولو کې برخه اخلئ چې په هغې کې داسې اقدامات شامل وي چې باید تاسو یې د جزا په موده کې تعقیب کړئ او یو څارونکي ټیم به ستاسو څارنه کوي.

د جزا د تطبیق پر مهال به مونږ له تاسو سره د جرم په هکله خبرې اترې کوو او تاسو کولای شئ د هغه چا یا هغو کسانو سره هم ملاقات وکړئ چې تاسو یې پر وړاندې غیر قانوني کړنه ترسره کړې وي، که چیرې هغوی وغواړي چې له تاسو سره ملاقات وکړي (د جوړجاړي په یوه ناسته کې).

د ځوانانو جزا او د ځوانانو څارنه په دې اړه دي چې ستاسو په ژوند کې مثبت بدلونونه راشي، تاسو د خپلو کړنو مسوولیت پر غاړه واخلئ او مونږ یوځای کار وکړو ترڅو ستاسو راتلونکي کې هر څه مثبت شي. تاسو باید دا انګېزه ولرئ او چمتو اوسئ چې په دې برخه کې خپل کوښښ وکړئ، خو د ځوانانو د چارو همغږي کوونکی او د څارنې ټیم به له نږدې څخه ستاسو څارنه کوي او کله چې ستاسو په انګېزه کې بدلون راځي، دوی به ستاسو ملاتړ کوي.

**(?) په دې اړه څه فکر کوئ؟ ایا کومه پوښتنه لرئ؟**

## ۲. چمتووالی
مونږ باید د ځوانانو د یو ښه ځانګړي پلان جوړولو لپاره له تاسو سره پېژندګلوی پیدا کړو. له همدې کبله، غواړو چې له تاسو سره خبرې وکړو چې څنګه یاست؛ تاسو څرنګه ژوند غواړئ؛ څه باید وشي چې تاسو له قانون څخه سرغړونه ونکړئ او تاسو دې هدف ته درسېدلو لپاره څه کولای شئ؛ تاسو د څه شي په اړه مرستې ته اړتیا لرئ او څوک له تاسو سره مرسته کولای شي؟ ستاسو په ژوند کې څوک مهم دي؟ مونږ به له نورو هغو کسانو سره هم خبرې وکړو چې تاسو پېژني تر څو دا مالومه کړو چې ستاسو لپاره د ځوانانو په ځانګړي پلان کې باید کومې لارې چارې شاملې وي. همدارنګه به مونږ له تاسو سره په دې اړه هم خبرې وکړو چې ستاسو د څارنې په ډله (ټیم) کې باید څوک شامل وي.

## ۳. پیل
د جزا پلي کول به په دې پیلیږي چې تاسو او د ځوانانو د چارو همغږي کوونکی (ungdomskoordinator) به د څارنې له ډلې سره یو ځای په یوه ملاقات کې د ځوانانو پلان جوړوئ. په پلان کې باید هغه لارې چارې (اقدامات) شتون ولري ، چې تاسو یې باید د جزا په موده کې ترسره کړئ.

همدارنګه، د شخړو د حل او فصل شورا به د دې لپاره کار پیل کړي تر څو دا معلومه کړي له چا سره ستاسې لپاره د جوړجاړي د ملاقات ترسره کول غوره دي.

**په دې اړه څه فکر کوئ؟ ایا کومه پوښتنه لرئ؟**



## ٤. د ځوانانو پلان او د څارنې ډله

د ځوانانو په پلان کې باید دا شامل وي چې تاسو به په ورځنې ژوند کې کوم کارونه ترسره کوئ. د پلان موخه داده چې تاسو په راتلونکي کې له قانون څخه نورې سرغړونې ونکړئ. تاسو به د پلان په جوړولو کې برخه اخلئ. تاسو کولای شئ چې د ځوانانو د پلان د جوړولو لپاره له ځان سره وکیل بوځئ.
که تاسو د پلان له منځپانګې (محتوا) سره موافق نه یاست، کولای شئ د ځوانانو د پلان له غونډې وروسته د درېیو اونیو په دننه کې د شخړو د حل او فصل شورا ته شکایت وکړئ. ستاسو شکایت به د شخړو د حل او فصل د شورا د دارالانشاء لخوا وارزول شي. تاسو حق لرئ چې په دې اړه د وکیل مرسته ترلاسه کړئ.

تاسو لاندې د ځوانانو په پلان کې د اقداماتو بېلګې کتلای شئ.

**د هنریک (Henrik) د ځوانانو پلان**

لومړۍ برخه، عمومي کتنه

| زه به د ځوانانو ځانګړې جزا په موده کې لاندې لارې چارې (اقدامات) پلي کوم | |
|---|---|
| لومړی اقدام | ښوونځي ته تلل |
| دویم اقدام | په BUP کې خبرې اترې |
| درېیم اقدام | د پولیسو له افسرې مارته لیله کروکین (Marte Lillekroken) سره خبرې کول |
| څلورم اقدام | ناقانونه نشه یي توکي به نه استعمالوم؛ د نشه یي موادو د استعمال معاینې (تستونه) به ترسره کوم او د نشه یي توکو د چارو له مشاور سره به خبرې اترې کوم. |
| پنځم اقدام | د فوټبال تمرین کول |
| اووم اقدام | په عادي ورځو کې باید د شپې 10 (22:00) بجې او د شنبې او یکشنبې په ورځو کې د شپې له یوولس نیمو (23:30)<br>څخه مخکې به په کور کې اوسم |



د ځوانانو په پلان کې ټول اقدامات په تفصیل سره بیان شوي دي. دلته یې تاسو یوه بېلګه وینئ.


## درېيمه (۳) برخه – اقدامات

په دې اړه مالومات چې د ځوانانو په جزا کې به هنریک کوم شیان ترسره کوي.

| | | |
|---|---|---|
| درېیم (۳) اقدام | له پولیسو سره خبرې اترې | |
| څه شی؟ | که کوم بل وخت او نېټه نه وي ټاکل شوې، نو هنریک به یوه اوونۍ تر منځ، د سه شنبو په ورځو د پولیسو له افسرې مارټه لیله کروکین سره د ورځې په 3 (15) بجو خبرې اترې کوي. د نورو شیانو تر څنګ به دوی په دې اړه خبرې کوي چې هنریک څنګه باید ځان له داسې کارونو څخه وساتي چې د نویو جرمونو د تر سره کولو لامل کېږي | |
| په کوم ځای کې؟ | د هامار (Hamar) پولیس سټیشن یا که د کوم بل ځای په اړه موافقه شوې وي. | |
| وخت | پیل: ۰۱,۰۸,۲۰۲٤ | پای: ۰۱,۰۸,۲۰۲٥ |
| موخه (هدف) | هنریک باید له منفي چاپیریال څخه ځان لیرې وساتي او مرسته تر لاسه کړي چې جرمونه تر سره نکړي. | |
| د ځارنې (تعقیب) مسؤلیت | | |
| څوک یې تعقیبوي | نوم: مارټه لیله کروکین | دنده/د کار ځای: د پولیسو ماموره، د هامار پولیس |
| ځانګړې موافقه | مارټه به له ملاقات څخه یوه ورځ مخکې هنریک ته د تلیفوني پیغام (SMS) له لارې د ملاقات په اړه یادونه<br>کوي. | |

د ځارنې ډله به تاسو د جزا په ټوله موده کې تعقیبوي. دا ډله (ټیم) له هغو کسانو څخه جوړېږي چې د ځوانانو د پلان د لارو چارو (اقداماتو) مسؤلیت لري. په یاده ډله کې ستاسو د کورنۍ غړي یا پولیس، د جزایي اجراتو د پلي کولو د ادارې (-kriminal omsorgen) کارکوونکي، ښوونځی، د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره (barnevernet)، د روغتیایي چارو اداره او داسې نور کسان شاملېدلای شي چې ستاسو په ژوند کې د اهمیت وړ وي؛ د بېلګې په توګه، ټرینر (د ورزش استاد)، ګاونډی یا ستاسو د کورنۍ یو نږدې ملګری. که تاسو باید د ځوانانو ځانګړې جزا تیره کړئ، پولیس او د محبس د اداري کارکوونکي به د ځارنې په ډله کې ګډون کوي.





## ۵. د باور د بیا را منځته کولو بهیر او لیدنه کتنه (ملاقات)

د شخړو د حل او فصل شورا به هڅه وکړي چې تاسو د هغه یا هغو کسانو سره د جوړجاړي غونډه ولرئ چې تاسو یې پر وړاندې غیر قانوني کړنه ترسره کړې وي، البته که چیرې امکان ولري. جوړجاړی کول یا د اعتبار بیرته رامنځته کول د رامنځته شوې زیان او بې عدالتۍ په له منځه وړلو په اړه دي، تر هغه بریده چې ممکنه وي.

د باور د بیرته رامنځته کولو په ناسته کې به تاسو د هغو شیانو په اړه خبرې کوئ چې پیښ شوي دي؛ دا ستاسو لپاره له پیښې څخه وروسته څنګه و او په راتلونکي کې ستاسو لپاره څه مهم دي.

کیدای شي چې د زیانمن شوي کس سربیره نور کسان هم وي چې ستاسو له ناقانونه کړنو څخه اغیزمن شوي وي او له تاسو سره د باور د بیرته رامنځته کولو لپاره ناستې ته اړتیا لري. همدارنګه کیدای شي داسې نور کسان هم شتون ولري چې ستاسو خبرې ورسره اړینې وي. تاسو کولای شئ د ځوانانو د چارو د همغږي کوونکي (ungdomskoordinator) سره یو ځای مالومه کړئ چې له چا سره د باور د بیرته رامنځته کولو ناستو (ملاقاتونو) ته اړتیا ده.

د جزا د پلي کولو (تطبیق) یوه مهمه برخه دا ده چې تاسو د خپلو کړنو مسوولیت پر غاړه واخلئ، نو تاسو باید په هرحالت کې دا توقع ولرئ چې کومه غیرقانوني کړنه چې مو تر سره کړې ده، د ځوانانو د چارو له همغږي کوونکي یا د ځارنې د ټیم ګډونوالو سره یې باید په اړه خبرې وکړئ.

## ٦. د مالوماتو شریکول

د ځوانانو د ځانګړې جزا د پلي کولو لپاره باید تاسو هوکړه وکړئ چې ستاسو په اړه محرم مالومات د څارنې له ډلې او د شخړو د حل او فصل د شورا له همغږي کوونکي ډلې (KOG) سره شریک شي .دا موافقه د جزا له پلي کولو څخه مخکې او د یادې جزا د پلي کولو په اوږدو کې د اعتبار وړ ده. یوازې په مجازاتو پورې اړوند مالومات له نورو سره شریکېدلای شي.

د شخړو د حل او فصل د شورا په همغږي کوونکي ډله (KOG) کې پولیس، څارنوالی، د پولیسو، د شخړو د حل او فصل د شورا او د جزایي اجراتو د پلي کولو د ادارې (kriminalomsorgen) استازي شامل دي. ځینې وختونه د روغتیایي چارو کارکوونکي، د ماشومانو د خوندي ساتنې ادارې او نورو خدماتو استازي هم ګډون کوي. KOG ستاسو په اړه معلومات شریکوي ترڅو دا مالومه کړي چې ستاسو قضیه د ځوانانو د جزا یا د ځوانانو د څارنې لپاره مناسبه ده. که اړتیا وي، KOG کولای شي ستاسو د جزا د تطبیق په جریان کې د ځوانانو د چارو همغږي کوونکي ته مشورې ورکړي.

د څارنې ډله ستاسو په اړه مالومات شریکوي تر څو ستاسو ملاتړ وکړي او ډاډ تر لاسه کړي چې تاسو د جزا د پلي کولو پر مهال د ځوانانو د پلان اقدامات پلي او عملي کړئ.

**پە دې اړه څه فکر کوئ؟ ایا کومه پوښتنه لرئ؟**



## ۷. له تاسو څخه کومې غوښتنې کېږي؟

تاسو باید هغه څه وکړئ چې د ځوانانو په پلان کې پرې موافقه شوې ده. دا مهمه ده چې تاسو ټولې ژمنې ترسره کړئ، اړینې ناستې تر سره کړئ، د اقداماتو پلي کولو ته حاضر او د څارنې له ډلې سره همکاري وکړئ.

### تاسو باید:

– د ځوانانو د پلان په جوړولو کې مرسته وکړئ او د څارنې له ټیم سره په همکارۍ کې د ځوانانو پلان پلي کړئ
– د ترسره شوي قانون ماتونې په اړه خبرې وکړئ او د خپلې کړنې مسوولیت پر غاړه واخلئ
– د جزا د پلي کولو پر مهال په ټاکل شوي وخت او ځای کې حاضر اوسئ
– د ناروغۍ پر مهال د ډاکتر تصدیق وسپارئ

### تاسو باید:

– د جزا د پلي کولو په موده کې نوي جرمونه تر سره نکړئ
– د څارنې له ډلې سره په ملاقاتونو کې مو الکول یا نشه یي توکي نه وي استعمال کړي. همدارنګه باید تاسو په هغو ملاقاتونو کې هم الکول او نشه یي توکي نه وي استعمال کړي، چې د ځوانانو د پلان له مخې ټاکل شوي دي. که چیرې شک وي چې تاسو ملاقاتونو ته د نشې په حالت کې حاضرېږئ، کیدای شي د نشه یي توکو د استعمال د معاینې (تست) غوښتنه درڅخه وشي.
– د جزا د پلي کولو پر مهال بهر ته سفر ونکړئ. په ځینو حالتونو کې، کیدای شي د ځوانانو د چارو همغږي کوونکی تاسو ته د سفر کولو اجازه درکړي. د دې لپاره باید تاسو په مناسب وخت کې غوښتنه وکړئ.
– هغو کسانو ته ګواښ ونکړئ چې ستاسو د جزا په پلي کولو کې برخه اخلي او په چاپیریال باندې باید منفي اغیزه ونکړئ.




## ۸. که چیرې له تاسو څخه شوې غوښتنې ترسره نه کړئ، نو څه به پیښیږي؟

که چیرې تاسو د ځوانانو له پلان او یا نورو ټاکل شویو شرایطو څخه سرغړونه وکړئ، نو له لاندې غبرګونونو سره به مخ شئ:
– شفاهي خبرداری
– د سرغړونې په اړه خبرې اترې

د شخړو د حل او فصل شورا کولای شي په پلان کې سخت اقدامات شامل کړي چې تاسو به یې له مخې:
– نشئ کولای په ځینو ځایونو کې شتون ولرئ
– نشئ کولای له ټاکل شویو کسانو سره یو ځای اوسئ
– اجازه نلرئ چې الکول یا نشه یي توکي وکاروئ او د نشه یي توکو د استعمال معاینې (تست) باید تر سره کړئ
– تاسو باید پولیسو، د جزايي اجراتو د پلي کولو د اداري یا د شخړو د حل او فصل شورا ته حاضر شئ.

که تاسو له دې شرایطو څخه بیا سرغړونه وکړئ، کیدای شي چې نوی پلان له نویو اقداماتو سره جوړ شي.

د ځوانانو د جزا په حالت کې محکمه کولای شي پریکړه وکړي چې تاسو له ځانګړو ځایونو څخه منع شئ، په ټاکل شویو وختونو کې په کور کې اوسئ او یا له ځانګړو کسانو سره له اړیکو نیولو څخه ډډه وکړئ. دا ډول اقدامات د الکترونیکي کنټرول (د پښتو زولنې) په مرسته پلي کیږي.




همداراز، نوې سرغړونې کولای شي د دې لامل شي چې د شخړو د حل او فصل په شورا کې د جزا تطبيق پای ته ورسيږي. که جزا د ځوانانو ځارنه وي، نو ځارنوالي به قضيه بيا وڅيړي. که جزا د ځوانانو جزا وي، نو پايله به دا وي چې محکمه کولای شي پريکړه وکړي چې تاسو بايد د حبس ټوله موده يا د هغې يوه برخه په حبس (زندان) کې تېره کړئ او يا به د ځوانانو جزا په ټولنيزې جزا يا تعليقي بند بدله شي.

که تاسو د جزا د پلي کولو له پای ته رسېدلو څخه مخکې بل جرم وکړئ، څارنوالي به د هغې جزا په اړه پريکړه وکړي چې تاسو يې د تېرولو په حال کې ياست.
که د جزا د پلي کولو له پاې ته رسېدلو څخه مخکې نوي جرمونه ترسره کړئ، نو څارنوالی به په دې اړه پريکړه کوي چې ستاسو د روانې جزا سره به څه کيږي.

**? په دې اړه څه فکر کوئ؟ ايا کومه پوښتنه لرئ؟**

کوم مالومات چې تاسو په دې رساله کې ترلاسه کړي دي د لاندې قوانينو څخه اخيستل شوي دي:
د ځوانانو ځانګړې جزا: د جزا د قانون اتم (8) فصل a
د ځوانانو څارنه: د جزايي داجراتو د قانون 71 § ماده a ، دويم بند
د جزا پلي کول: د شخړو د حل او فصل د شورا قانون څلورم فصل
مدافع وکيل.: د چزايي اجراتو د قانون ۹۶ § مه ماده، دريېم بند، ۹۶ § مه ماده او د ۱۰۰ § مې مادې دويم بند



Konfliktrådet

Sekretariatet for konfliktrådene
Mariboes gate 13, 0179 Oslo

www.konfliktraadet.no

Aksell